دکانِ موسکا

اسداللہ اسد

دکانو موسکا

د

اسدالله اسد

دشعرو نومجموعه

کابل : ۱۳۶۶ کال

دخپلی مینی‌په‌نوم چی د خو زو ستر گو تصوریی
دشعر دلیکلو د پاره قلم راکوی.

دکتاب نوم : دکانو موسکا
شا عر :اسد الله اسد
خپر وونکی :دافغا نستان‌دلیکوا لو انجمن
مهتمم : ن . سیوری
کا ل :۱۳٦٦
دچا پ‌شمیر : دو ه زره
گنه : ۱٤۳
دچاپ ځای : دولتی چاپخونه

۱۵۰ـ

اسد
اودکاټودامو سکایی

زه‌په مینتوب کی سر په آه و سودا و ختم
ستوری دسبایم ډك آسمان کـی تنهاو ختم

اسد الله اسد دځوا نی پښتـــو غزلیز ی شاعری یو نماینده‌شاعر دی. د هغه شا عری زموږ داو سنی ځوانی غز لیز ی دنیا بنسی‌او خوږی بیلگی دی . هغه دغزل دلاری هغه ځوا ن لاروی دی چی په خپله د غه کم عمر کی‌یی هم نوی شا عرا نه دستاینی وړ بری تر لا سه کړ ی دی. هغه د شعر دلار ی دپیل کار هم په غور او دقت او ژور تیا پیل کړی دی او له همدی کبله خو دا امیدکیدای شی چی که هغه د ی کارته اود غو هڅو ته‌په لا ز یا ت غور او ژور تیا ادا مه ورکړ له،زموږ دسبا دشا عری او زموږ دراتلو ـ نکی شا عری یوه منلی او و تلی څیره به‌شی .

ـالفـ

((دکاڼو موسکا)) د ګرانۍ اسدالله اسد دشاعرۍ لومړ نۍ چاپۍ مجموعه ده چې دادۍ ستا سو په مخ کې پرته ده . کله چې د غه مجمو عـــه لولو څو ټکو ته مو باید مخکې له مخکې پا ملر نې کړې وې ، اوهغه ټکې به داوې چې :

ـ داد اسد دادبې اوشعر ې ژوند دپیل دآثارو نمونې دې .

ـ دشعر او غز لو په دغه دفتر کې اسد االا دشعر ې تجار بو د لارو په لوم ړ نیو ګا مو نو کې د ې خو همدغه ګا مونه یې د لاز مـــې پیاوړ تیا اود ځوا نې پد غـــــو شیبو کې دلاز مې ښکلا لرو نکې دې.

ـ دشعر په دغه دفتر کـــې داسد اووه پنځوس غز لې ،((دکا ڼو موسکا)) په نوم یو نظم ډو له شعر اوو((دښکلا لمبې)) په نوم یو آزاد شعر را غلې دې .

ـ داسد په و ړاند ې لا داد بې یون او ځغل پرا خ ډګر پروت دې. دغه به دغه شعرې ډ ګر د هلوځلو یو داسې لاروې وې چې نـــــو ې افقونه به ځا نته ځلوې ، نوې بړې به تر لاسه کوې، او ځا ن به دپیل دشاعرۍ له خا مېو او نیمګړتیا وو ژغورې ، هغه که داسې و کړل نو بې له شکه چې ځا نته به دځا نګړې شعرې او ځا نګړې غز لیـــــز ې لارې شاعر او غزل بول وې.

داسد ((دکاڼو مو سکا))د ځوان غزل یو شمیر ښې ، خو ږ ې او روانې نمونې لرې. په ځینو غز لو کې یې غزلیز بیان زیاتې ښکـــــلا ته رسیږ ې . لکه دغه څو نمونې:

زخمې زړه دیار له غمه دپړها ړغوتې کړه خلاصه
عبث مه راوړ ې اسدته د بې رنګه سپر لوزیر ې

یا :

ګوره داسد دتخیل مانې
څلې یې په کوم طر ف کاږه ښکاري

PROPERTY OF ACKU 2960

یا:

رامات دزلفو خیال کړ و در نو او ښکو برسات
اور ښت ته‌چی یی ننبلی دباران ژبه تالوکی
وفا می په‌لیمو کری دو صـــل انتظار
جنون ته چی موسکی شوه د ارمان ژبه تالوکی

یاداسی چی :

عشقه ور ځی شپی دی په سر واوښتی
څو مره و سو سی دی په ســر واو ښتی
غوټه شوه محفل کی دسا قـــی ټنډه
بخته چی کاسی دی په ســـــر واوښتی
ژبه حیاناکه ده بانه وایی
راشه چی‌و عدی دی په ســـر واوښتی ...

اسد تر ډیره ځایه هڅه کړی ده چی‌په خپلو غزلو کی شعری‌نو ښت ته‌پا ملرنه وکړی. مو ږ د هغه په ځینو غز لو کی ډیر نوی‌ترکیبونه او مفا هیم لوستلی شو. دلته یی یوازی دیو څوبیلگو یادونه کوو:

سوروی دغرور په نیلی ای زما مظلومه زړه
ښه شو چی انګړ دخوشحا لی درنه سودا و نیو
چاته دعرض پانه وړی اسده نن دآه په‌لاس
زړه چی دصیاد په څیردامو نوکی آشناو نیو

یا:

دوفا دانی کرم دویر په سترګو
داچی‌نن یی‌تر مالته په‌سلګو ځم

او:

ور څی به دوصا ل کور ته د او ښکو په اوږو
خاشاك زړ گی می‌اینبی داو بو په‌زړگی پل

څود اسد الله اسد په د غـــــه شعری مجمو عه کی دپا ملر نی وړ څو ټکو ته هم اشاره کوو . ترهر څه‌د مخه موږ په دغه شعر ی‌جونګ کی‌و ینو چی ډیر ی خبری،مفا هیم او کلمی بیابیا تکرارږ ی.دنمونی په‌توګه: او ښکی، سلګی، مجمر ، سپیلنی، هجر، وصال ، جنو ن، مجنون، وخت ، بانه، هو س ا و داسی نور .

دغسی تکرار کله بیخی‌زیاتیږ ی او لکه داو ښکو په څیر خو یـــــی تقریبا هره غزله ژړغو نی کوی(!)

په‌یو څو بیتونو کی دمو ضو ع ارتباط سړی په‌سختی پیدا کو لی شی . لکه :

ښکلا می دآشنا کړه په ناز ړه نظر کړه
غیرت ته‌یی تتی‌شوه د آسما ن ژبه‌تالوکی

یا:

ځم چی دوطن په سپیرو خاورو سینه‌و موښم
او ښکوته پر توګ د مینی زه توره تیاره ګنډم

کله‌کله زموږ ځینی‌لیکوا ل ا و شا عرا ن ملګر ی دګران اسد پـــه شا عری داسی انتقاد کوی چـــی ګوندی دهغه غز لی کله‌کله زیاتی پیچلی‌کیږ ی او دمانا په لټون‌پسی یی‌سړی دو مره سر ګردا نه‌کیږی چی دشعر دښایست اصلی جو هر په‌کی تری‌تم‌کیږ ی . زه خپلـــــه په‌عمو می ډول دهغه په غز لو کی په داسی نظر نه‌یم. دا ځکه زه په‌دی باوریم چی او س دپیچلتیاووپه‌یوه داسی دوران کی ، شا عر ی هم‌له دغو کړ کیچو نو او پیچلتیاوو نـــه شی ژغورله‌کید لی . کله کله‌شاید ځینی لازمه پیچلتیا دشعری اډادبی ښا یست ، لوړ تیا او پیاوړ تیا یوه ډیره لوړه نمونه وګڼله‌شی ، خوددی شرط دادی چی شاعراو هستوونکی خپله دمسایلو په متن کی د غسی پیچلتیاوو ته‌رسیدلی وی، نه داچی په‌زور و غواړ ی پیچلی څـــــــه والیکی .

—د—

داسد په‌شعر کی پیچلتیا گله‌گله ربنتیا هم په ځینو بیتونو کی په داسی ډول راتر ستر گوکیږ ی چی دمفهوم په‌لټون پسی سړی سر ـ گردانه کوی لکه :

خیال می تصور کی دسر کـــو شونډو په‌جات‌و خوت
سر به نذرانه کړم که‌نفس یی‌په آرام‌وخو ت

او ښکو ناو کی دفر هاد ی او ښکو نسکور ه‌کړه
زړه‌می‌له هو سه د محمود دکور په‌بام وخو ت

عشق می له‌آسمانه د سلګیـــو تقا ضا کړی
غم‌می په‌بیوسه هیلو ځکه گام په گام وخو ت

یادغه غزله‌چی:

ځنګیږ ی می دخیال ناو ی‌کمځو کی دما ضی
اختیار دسپینو او ښکو ور ځو شپو کی دما ضی

دګام په مخ ښکاره کړ ی‌داخلاص دمخ ښکلا
ښکلاوه دجنو ن په اننګو کی‌د ماضی

په‌سترګو دښو گور م دیـــــارد سترګو رنګ
یم کو که دهو س په سوزیدو کی دما ضی

دمینی‌تبسم غواړم کوڅه کی د وصال
خنداشوه رانه تاوه غور ز یدو کی دما ضی

خو ددی په څنګ‌کی نه‌شوکو لی‌داسد له هغو غز لو څخه ستر گی پټی کړو چی دساده، خوا ږ ه او روان بیا ن ښکلی نمو نی دی .په دغه لړکی‌زیاتی نمونی شته د ی. په‌تیره بیا هغه په خپله ورو ستی شاعر ی کی دی ټکی ته خپلـــــه زیاته پا ملرنه را اړولی ده ،خوله همد غی مجمو عی څخه به یی د دوه غزالو څوځو بیتو نه راواخلو:

ـ هـ ـ

یو خوب یی دلیموو م کله تلم‌کله راتلم
بلد په‌شو گیرو وم کله تلم کله راتلم

اثر می دجنون گوره دستر گوپه ځولی
بس شمعه دتیارووم کله تلم‌کله راتلم

را هست‌یی شوم له‌رو یه ددنیا دمخ‌په کور
سپر غی‌چی دلمبووم کله تلم‌کله راتلم

مستی می وه دمینی دنبایســـت په اننگو
لایق دسو زیدو وم‌کله تلم کله راتلم

او بله غزله‌یی داسی ده چی:

درځم په‌سترگو سترا کو څه می په‌سر اور بلوی
دسپینی خو لی مړه پلوشه می په‌سر اور بلوی

څنگه‌به نه درور م ډالی دزړ ه‌د وینو قطره
ستاد بنو هره نخره می په سر اور بلوی

سوړ اسو یلی می په سپیـــرو شوندو دځه نښه ده
ستاپښه نیو لی تلو سه می‌په سر اور بلوی

زمادرنگ په ژړه باڼه دنیا څه ولوستل
دبیلتانه شیبه شیبه می په سر اور بلوی

داسد په شاعری کی او پـــــه ځانگړی تو گه د هغه‌په غز لو کی دیادونی وړ څه نور ټکی هم شته دی. څه داسی ټکی چی‌د هغـــــه‌د شاعر ی دښکلا او ستا ینی ارخونه دی اویا کیدای شی چی‌څه دا سی ارخـــونـــه هم له ماپاتی وی . چی دځینو نیمگړ تیاوو په‌بر خه‌کی په انتقادی توگه باید یاد شوی‌وای‌خو فکر کوم چی داوس‌له پاره به همدو مره بس‌وی . د هغه دآثارو له‌خپړ یدو وړو سته به لیکوا ل او منتقدین په دغو بیلا بیلو هرارخیزو برخو رڼاواچوی .

امید لرم چی گران شا عـــــر اسد الله اسد به ماو بخښی کـــه یواز ی د هغه دشعرپه ستا ینوبسیا شوی نه‌یم.ځکه مو ږ باور لرو چی حتی دشعری دفترونو پـــه سریزو کی هم یواز ی له‌ستا ینو څخه څه نه‌جوړیږ ی .هغه ماهم‌پیژنی چـــی‌زه ددا‌سی ستاینو سړی نه‌یم، او زه هغه هم پیژنم چی هغه د ځینو په څیرتش په‌ستا ینو نـــــــه خو شحالیږ ی .

په مینه

زرین انځور

*

انن زما پەزړ ګی و شو هجرەستا دلیدو زیری
لکەیو سی څوك سپرلی تەدخزان دراتلوزیری
او ښکه ښکته شوه ګریوا ن تـــه نابلده ګرځیدله
چی فلك ورباندی وکړود بیلتو ن دزاتلو زیری
دلدوخت پەلویه ژرنده شو ی نینی زمادهیلو
سوری زړه می کله اور ی دبلبل دنغمو زیری
دازمادآه څپی دی چی دګل پـــه لمن لګی
سپیدو راوړی ندی دنسیم دوزمو زیری
داچی نن ایی ما تی ستر ګی د بی قدرو او بو کورشو
هیلو واوریدلو چیر ی د هجرا ن دلمبوزیری
زخمی زړه دیار له غمه د پرهار غوښتی کړه خلاصه
عبث مه راوړ ی راسه ته دبی رانګه سپرلوزیری

ننګرهار
۱۳۵۸ر۳ر۱٤

*

غمونه میلمانه دزړه په شا ږ ه شا مودام وی
گذر چی دخیالا توستا دزنـــو په ما بنام وی

دوخت په تقاضا به خوږ م ترهغه تینه کوله
تازه چی په موسکا ستاد رنگینو شوندو جام وی

دحسن په شغلومی دا معصو م نفس یاغی کړه
دشمعی په لمبو کی دپتنگ دزړه آرام وی

راځه ووایه گرانه د سپیـــږ وشوندو په خواست می
ترڅو به می امید بیلتو نه ستاددرغلام وی

اوتر او تر کاته مخکی دزلفو سلسلی شنی
ورك شوی له اسده ستاد ماتوهیلو جام وی

۱۳۵۹ر۱۱ر۲۵
کابل

دسعد الله‌جان برق دیوی غزلی
په اقتفا دجوړی شوی مشا عر ی په‌لړکی.

*

مینې لیوانې می د جنجال لمنه ونیوه
فکر تصوره ستاد ټال لمنـــه‌ونیوه
یار راته غمونه په‌ځو لی کی دخیال واچول
ماورته دسپینې خو لی دسوا ل‌لمنه ونیوه
او ښکی دبلبلو دسپږ لی په‌پښو کی‌وګوره
غنو دی ګلابه دوصال لمنـــه‌ونیوه
زړه به دکلو کلو دزهد قبله‌ماته کړی
لمر یې که دسپین مخ‌د مثال لمنه‌و نیوه
تیټ شولو اسد سجدی‌ته عشقه په محراب کی ستا
ستورو دآسمان که دشپه خا ل‌لمنه‌ونیوه

۱۳ر۵ر۱۳۶۲
کابـــل

*

بیا می فریادی زړه خوږ آشناته په خندااونیو
بیاد بدای درته د امید کچکـول گداونیو

سره سر خی دیار دسر کـــوشوندهو بنکاریده په گی
ماچی داازخمی زړ گی نظر ته د دنیاو نیو

مکردی کاسی دسترگو ژ ر د مځکی لوړته کړی
ستا خو نخوار نظر چې می آشنادزړه په غلاونیو

سوروی دغرور په نیلی ای ز مامظلومه زړه !
بنه شو چی انگړ دخوشحا لی درنه سودا ونیو

چاته دعرض پانی وړی اسده نن دآه په لاس
زړه چی دصیاد په خیر دامونو کی آشناو نیو

۱۳٦۲ر٦ر۸
کابـــل

*

پەستر گو راتە خە وایی بنو کی‌راتە خە
وختە درنە جارشم پە لیمو کی‌راتەخە
زە کە دخوزی مینی خوازە لـــەخیالە بیل کرم
عشق کی راتە خە وایی پنبستو کی‌راتەخە
ماتە دنیاگی را کرە دقیس نامە وصال کی
وایی بەدهجر پە تیاروکی را تەخـــــە
لرخومی غمگین زړ گی دو خت پەرمز آگاه کړە
وایی مستقبلە اشارو کی را تەخە
کلەچی خیالونە داسد پە و یردر یادشی
غمەوایی دمرگ وړو مسلگو کـی‌راتە خە

۱۳۶۲ر۷ر۹
ننگرهار_جلال آباد

*

نه دَ اوښکو په شیبو دستر گو تورځی
نه مین دیار له څنگه په پیغـورځی
یاره ستا دبیلتانه یـــــــی اوریدلی
اوښکی څکه گریوانه لره پـــه ځورځی
چی شغلی دښکلیٰ حسن پری خپریږی
خیال می هلته د هوس په شاهین سپورځی
میلمه پال خال یی په ستر گـوالیده نه شی
جال دوروځو یی په سپینه تنده خپور څی
زمانه یی نن په خلاصو ستر گو گوری
چی آهو نه داسد دیار په لـــورځـــی

۱۳۶۲۷ر۱۸
کابـــل

*

سپرلی کوی تلوار را څی‌خزا ن پسی واپس
وصال به دیار راشنی د هجرا ن پسی واپس
داوښکو بهیرو نه به د ظلم خونه‌یوسی
آسمان په‌شنه کیدو وی دباراان پسی‌واپس
خندا په‌و چو شو نلو تخیل‌ورته موسکی‌شی
چی رایی‌شی یادونه دگریان‌پسی واپس
پښتون زړه می له درده د امیدشنا خته بوسه‌کړی
چی‌و خاندی رقیب می‌دگرایوا ن پسی‌واپس
داو ښکو سلسله می د سینی‌د غار ی هار شی
چی‌و گورمه ورروسته دار ما ن پسی‌واپس
داروح دخوار اسپد دیار دلیار ی بدرگه‌و
که سیوی په تینه‌کو ته جانان‌پسی واپس

۱۳۶۲،۹،۱۳

*

زه‌په مینتوب کی‌سر په آه ا وسوداوختم
ستوری دسبایم ډك آسمان کی تنهاو ختم
خیال ته می وصال کی لوړفلك‌او آسمان ټیټ کتل
هجر چی‌کړم سر په‌ز نګون‌خواراو ګداو ختم
زه یوانظرما تی دآشناد خما روستر ګو
هلته دمانو په خیر، په و چه‌بیدیاوختم
څه ښکلی نسیم دی چی‌تل زلفی‌لوبوی دګل
زه یی دتیرو غنو خواخوږ ی آشناو ختم
خیال‌یی په‌رنو ستر ګو د حسن‌نندارې کوی
زه یی‌تش دزلفو دکو څیـــــو شیداو ختم
وړی داسد زړګی دیار د سر کـــی‌شونډو خیال
څکه یی‌نوکرزه دناز کی‌موسکا وختم

۱۱ر۱۰ر۶۲
جلال آبـــــاد

*

خیال کی می او تر دیار کا تـه بنکاری
ستوری د آسما ن په الم خا ته بنکاری

وایه عشقه ! خه ده تقا ضـــــا دیار
بیادي سره په وینو کی با نـــه بنکاری

نن دکوم خو نخوار له شکا یتـه بیـــا
دوب دی په رنو او بنکو لـیمه بنکاری

وایښی به په شپیلی د اسرا فیل نه شی
بخت می دغفلت په خو ب و یده بنکاری

سترگی یی له شر مه راکتی نـــه شی
وخته نن زما په مخ کی خـــه بنکاری

گوره داسد دتخیل ما نـــــی
څلی یی په کوم طر ف کـــا زه بنکاری

۲۹ر۱۱ر۶۲
جلال آبـــاد

*

خیال مې تصور کې دسر کـــوشونهاو په‌جامو خوت
سر به نذرانه کړم که‌نفس یې‌په‌آرام‌وخو ت
او ښکو ناو کې دفرهاد ی‌اوښکو نسکوره‌کړه
زړه مې له هوسه د محمود دکور په‌بام‌وخو ت
او ښکه مې دزړه په گرېوا ن‌کوزه‌شوه له‌غمه وی
مینې‌لیوانې‌کړم‌خیال د دوه‌ستر گو غلام‌وخو ت
عشق مې له‌آسمانه دسلګیو تقاضا کړې
غم‌مې .په‌بې‌وسه هیلو څکه ګام‌په‌ګام وخوت
فخردی چې‌وخت ګلې دبل حسن‌ملنګ‌نه‌کړم
ښه‌چې‌مې دپښو و لچکې سټاد زلفو دام‌وخوت
مینې‌د خوږو کړې دخوار اسد‌په‌غاړه کړه
څکه‌یې امید غیر ته !ستا پـــه تنګو نام وخو ت

۱۳۶۲ر۱۲ر۱۳
جلال‌آبـــاد

*

په‌زړه دبیلتانه دپلك وا رو نـه‌تیروم
په‌تمه دوصال اوږ ده کلو نـــه‌تیروم

دمینی‌اله دریابه هجره ! اوښکی‌می‌بهیږی
دخیال په‌نیلی ستاد غم بارو نه‌تیروم

جنون ته چی وصال کی هرکلی‌وایم دلبره !
په مینه‌کی اله قیسه ځوگامو نه‌تیروم

راگوره سپیلنې دی شم‌سپرلیه ستاپه‌تمه
دوخت په لاس دز هرو ځـــوجامونه تیروم

زړگی توتی توتی لرم بیلتون‌چی راته گوانبی
دهجر د ذرگاه خوارەوختو نـــه‌تیروم

اسله زمانی ته هم حیا لـــږه‌پکارده
تر څو به‌یی‌په مات زړه گی‌در دوته‌تیروم

۱۵ر۱ر۱۳۶۳
ننگرهار ـ جلال آباد

داجمل ختك ديوی غزلی په اقتفا

*

ترڅو به دپتنگ اود بورا خبری کیږی
له دی نه به‌واپس ستاد شیدا خبری کیږی
دوخت ډیری ناخوا لی او زما یو صداقت‌و
په‌زړه کی دی اوس وایه چی دچا خبری کیږی
خوښی د هیلی و گوره د خیال‌په کړ کینچه کی
زړگی ته‌چی دو صل د دواخبری کیږی
پرهار دزخمی زړه به می آ خر شوندی انږدی کړی
درمل‌ته‌یی په شوندو د آشنـــا خبری کیږی
نن او بنکه دآدم په‌مخ‌درخوته‌په خنداشوه
پرون ته یی د مینی دسباخبری کیږی
غوتی غوتی داو بنکو خا مخـــالویږی سینی‌ته
اسد ته چی‌د هجر د صحراخبری کیږی

۶۳ر۳ر۸
کابـــل

*

آشنانه چی د مینی په‌و عد و ظلمونه هیر شوو
دخیال‌نه می دهجر د چې‌وزخمونه‌هیرشوو
په مخه‌راروان‌و چی یی‌شاته کتل‌دیر
سپرلی‌نه د دوه زړو نودو صال‌گلونه هیرشوو
داوښکو په قطرو کی یی نن‌رازڅمینی ولید
دنیانه‌می اخلاص ته په‌گریوا ن لاسونه هیر شوو
چی‌سوز یی د سپیرو هیلودزړه‌په‌کورموسکی شو
فلك‌نه دژوند لارکی گړ نـــدی‌گا مونه هیرشوو
چی آه می دیار عشق کی تـــرآسمانه پورته‌لار
دهجر دنهنگ نه دغـــــرو ر گوانبونه هیر شوو
یوزمخو یی راانبکارکړ م شه‌په تورو زړو نو خیر
ښکلانه په دامان کی تول‌خواره‌دامونه هیرشوو
چی‌وازی شوی‌په مینه دو صال‌دمخ‌بوسی‌ته
اله‌شوانداو نه هو س کی خپـل‌خواره خانگونه هیرشوو
اسدیی چی کره کړودژو ندون‌په‌پرزیدوکی
نظر نه پ زړگی کی د بنټوسرونه نه هیر شوو

۱۳۶۳ر٤ر۱۵
کابـــل

*

کلهچی ضمیر می د خندا سره ترغاړی وو ت
واګی د هوس و دګدا سره تر غاړی وو ت
وخت دی هم دز هرو جام په سر باندی راواړوی
هلته چی مجنون خوار دلیلا سره ترغاړی ووت
ګوری یی د هجر تورو شپوکی دژړا شا هد
نن چی می دهیلو ګل ګډا سره ترغاړی ووت
شنډه نه کړی خدایه دا نشه خو می دخوب نه وه
خیال و په تیارو کی د آشنا سره ترغاړی ووت
ګونځه دغو سی یی د حسین تندی په سر نه وه
تندر دآسمان و دبر بښنا سره تر غاړی ووت
ظلم دخندا ناوی دو خت پـــــه شو ندو ګډه کړه
کلهچي ژو ندون می دژړا سره ترغاړی ووت
ګوره چی خوره شوه پری دیارد تریو تندی غوټه
ژوندچی انډیښنو کی د موسکا سره تر غاړی ووت
تاچی د اسد د دیدن خوارکچکول بی داده کړو
ژوند خوږ تصور و دسودا سره ترغاړی ووت

۱۶ر۳ر۶۳

جلال آباد

*

موسیبزی مستقبل چی دغمو نوپه اوربل کی
راحت ځا نگی زړ گیه! ددرونو په اورب ل کی
سو غات یی دوصال گنهسپرلی خوور پسی دی
ځلیبزی به بیا پرخی دگلو نوپه اوربل کی
خیالونه لیونی می دزړ گی پـه لتون گر ځی
اثر گوری دستر گو د داغو نوپه اوربل کی
جنون ته به دعشق دلیو نوستر گی شی کوزی
وفا بربنبسی د مینی دبا مو نو په اوربل کی
خرده سپیلنی دی شم حا جتځه دی دملو
بربنبنا چی شته دشو نلړو د جا مو نو په اوربل کی
ټن او ښکه داسد ځکه تلوارد کوزیدو کړی
جفا دی ښکاری وخته ! دگامونو په اوربل کی

۶۳ر٤ر۲۳
کابـــل

*

خیالونه لیو نی چی دسودا پـــه زلفو ځانګی
بی‌و سه امیدو نه دژړا په زلفوځانګی
زماد غم سلګوته صرا حی شموه‌راانسکواره
داولی‌می په وير کی د خندا په زلفوځانګی؟
الله دی مینی‌ستا دکوردو هی لری تل ګرمه
محمود غو ندی شاها ن به‌دګدا په‌زلفو ځانګی
آرام ګوری عالمه دسپیروخاوروپه‌غیږ کی
دمینی‌لیو نی چی دبیدیا په‌زلفوځانګی
بیـا خدای خبر کـه شو نه‌ی‌د خنداوزروانه خلاص‌کړی
زړګی‌چی می د سترګو د بنکلا په‌زلفو ځانګی
راځه‌و ګوره خیرشه چی غو صه‌دی په‌تندی شی
اسد دغم په جیل کی د لیلا په‌زلفو ځانګی

۹ر۵ر۱۳۶۳
جلال‌آباد

*

نیالگی زماد .هیلو چی هجرا ن کی رژیده
امیل دسپینو اﻭ بنسکو می گریوان کی رژیده
بی نر خه پلوشی وی د دنیا دسترگو کنج کی
گلاب زماد مینی چی خزان کی رژیده
دسرو میو پیاله سا قی په تیتو سترگو راکړه
تاثیر دبی هو بنسی چی مـــــی دیوان کی رژیده
چی ستر گی خوابوالی دآشنا په لور کړی شوی
وصال یی تلوسو سره ارما ن کی رژیده
قاصدمی دوصال شو ،شو خو سترگو کی بنکاره
ساغر چی می په شو نړو دجانان کی رژیده .
را هسك شواله تالاقه د اسد د زړه لوګی !
نظر دچادسترگو په میدان کـــی رژیده

۱۳۶۳ر۶ر۲۲
کابل پو هنتون

*

سوی زړه دشمعی ویر ته په بنوځم
ومړه ژوندۍ ! اسو یلی یی له‌وښکو ځم
نندرانه شه دژوند در ،دعشـــق له‌سره
خیرکه زه یی په‌ښکلا کـــــی دکمځوځم

دوفا دانی کړم د و یر پـــه ستر گو
داچی نن یی تر مالته په سلگـوځم
دریا دپښمو په‌نو که څه خوازه‌دی
وخته !زه یارته په‌ستر گو پـه‌لیمو ځم

دوصال دحسن میره ستا لـــه‌شرمه
لکه دود نن په‌مجمر کی د پښتوځم
کوردسد ته اسلو چی شوانډی نه‌ځی
چا ودی زړه به‌په گو ځـــه‌دلیونو ځم

۱۳۶۳ر۸ر۲
کابل

*

دستوارو دبنسکلا کاروان یی خال کی تاویده
دغم دکور سپیره تالی می خیال کی تاویده
راکوزه چی گریوان ته شوه د او بنکو قافله
دورځی دو عدی قدم یی کال کی تاویده
دچاپه شوندو راغی د ویر جـن نظر تواهین
دلمر دحسن نو م یی په مثال کی تاویده
یاغی شوچی شوی ز لفی د آشنا په مخ خپری
په اوبنکو لوند معصوم کسی می تال کی تاویده
رباب دغم زنگون و ، دیاراو بنکی په سینه
آواز ز ما دویر یی چی په تال کی تاویده
نظر ته داسدیی دو صال گو ته کړه نیغه
بانه دیار دوروځو چی هـلال کی تاویده

۶۳ر۸ر۷
کابـــل

*

آسمان می توایوالی دزړ گی ژړا ته اوښکی
لیمو چی ځلو الی دجنو ن صحرا ته او ښکی
خپاره ترخه یادونه شو په ذهن دماضی
ستم چی ژړو الی دښو ادا تـــه او ښکی
بل هیڅ نه او ، وفاوه ، تازه هیله دزړ گی
مین چی خوزو لی دکواکی ښکـلا ته او ښکی
په هیله دوصال ژړاین ی شمعه داخلاص
راځی چی ور جر گه شی دژوندون سباته او ښکی
دمینی په محراب کی دو صا ل په ارمانو
گلاین ی په سرو پښو کی دپایزیب شرنگاته او ښکی
سده په مجمر دعشق د ژوند په سپیلنو
ورځی که حال یی وگوری دیار خنداته او ښکی

۶۳ر۹ر۱۷
کابـــل

*

آرام شو دپښولا ندی په خفګان ولګیدی
زړګیه !چی دوروځو په کما ن ولګیدی

را اخلمه په مینه درنو او ښکو کسات
که ګوتی می دحسن په ګریوا ن ولګیدی

دغم په منګول وړی نظر کا سی دزړه دویر
دابیاولی غلیمه! په افغـــــا ن ولګیدی

دانن یی زغلاوه دزړه په شونډو کی ماتم
دماتو او ښکو سیله په ار ما ن ولګیدی

وفادی زنګو له داز غیو پـــــه پیکی
دانښه شو چی زړګیه په میـدا ن ولګیدی

اثر به کله شیندی داسد دآ ه دانی
دخو لی نه شوی بهر ی پـــــه آسمان ولګیدی

۱۳۶۳ر۱۰ر۲۱

*

نخره چی شوه دمینې په بنهـــو کږه‌وزه
آرزو مې شوه دستر گو پـــــه لیمو کږه‌وزه
په‌ستر گو دنظریې زلزله کړ ه رابنکاره
سرخې چې شوه د مخ په اننگو کږه‌وزه
قیمت‌مې دآرام شو ، دچا غم ته سپیلنې
بریښنایې ځې دوږو ځو پـــه لیندو کږه‌وزه
دخیال ناوې مو سکې شوه د اخلاص دکور په‌بام
ژړایې‌تله د هجر په و بنکو کږه‌وزه
داوښکو پرزیده یې کړه کړه په شوخ نظر
خندایې شوه دشو ندو په‌جا مو کږه‌وزه
دمینې‌په‌بلې مې کړه دویاړ نغمه سوزه
شکلایې ځې دحسن په با مـــو کږه‌وزه
ژړگې داسد وریت‌شو په مجمرد اننگو
وفایې‌شوه د اوښکو په دا نـــو کږه‌وزه

۱۳٦۳ر۱۰ر۲٤

PROPERTY OF
ACKU
2960

ځولی

ځوانی ته دګل ناڅی دبا غوا ن ژبه تالوکی
وصال ته دیار خاندی دجانا ن ژبه تالوکی
راانما ت دزالفو خیال کړو درنو او بنکو برسات
اوربنبت ته چی یی نښلی دباران ژبه تالوکی
وفا می په لیمو کړی دو صـــل انتظار
جنون ته چی مو سکی شوه د ارمان ژبه تالوکی
بنکلامی دآشناکړه په نا زړه نظر کړه
غیرت ته یی تتی شوه دآسما ن ژبه تالوکی
بانه می وړ ی په ستر ګو کی لمبه ستاد فراق
وفاته می تل سوز ی د هجرا ن ژبه تالوکی
دمینی په ځوالی شیندلی چاد غم اثر؟
اداته په وير اوړ ی دانسان ژ به تالوکی
زینت چی د دلبرشنو د اسد په مخ بنکاره
اظهارته یی ګو نګی وه دبیا ن ژبه تالوکی

۶۳ر۱۱ر۵

*

وفانه ږدی له نازه دنخرو پـــه زړګی پل
جنون راوړ بی‌واکه داز غو پـــه زړګی پل

بریښنا می دوصال ځی در قیب دویر په‌سر
ډغم چی شو کاواکه د اسرو په زړګی پل -
هوس منی تری ولو گی شه د ا ژوندون یی صد قه
دیره دی کړه په مینه د لیمو په زړګی پل
دژوند متاع‌راانجه شوه د آشنـــا دناز په‌نوم
دانن یی چی راستون شو دایرو په‌زړګی‌پل

اورځی به دوصال کورته داوښکو په اوږو
خاشاك زړ گی می ایښی داو بو په‌زړګی پل
مدام‌به په ژړاوی د اسد ژوند داغو په‌زړګی پل
بیلتون چی وارپه واړ وړ ی د دانی

٦٣ر١١ر٧

*

ژوند دآه په اوږو سورو چې لمبه شوم
الکه او ښکه دچاحسن ته ډیوه شوم

ماځو لی داو ښکو ستا په نوم خوره کړه
ستاچې اړ ښکه په مخ را غله لوڼپه شوم

دسپرلی دنسیم او ښکی را ته ژاړی
دبې باکی مینې لښته وم کـــږه شوم

دهو س بها دحسن صد قـــه ده
چې په غم دیار دسرو شو نډو نخره شوم

دفرهاد دماتم سترګی را تـــه ناڅی
دوفا په نوم داو ښکو تاتره شوم

دااسد دژوند قطره که په او ر وسوه
دسر خی په نوم دیار په مـــخ ښکاره شوم

۱۲ر۱۱ر۶۳

*

سترگی دآسمان نه‌و ینی، دا چی‌وړته څه ګنلیم
تو لعنت په ما کی داخلا ځـــس په‌لومه زړه ګنلیم
نه‌شو م لاس په‌نام زه‌د هوس‌د ګوړ نا دو دۀ ته
عشق‌واریت‌په لمبو کړم چی‌د‌پښو لاندی پراته‌ګنلیم
سل‌بلا راپوری شه دژوند ډیوه‌می و سوزه
نیغ‌چی چاته‌نه ګور ی هغـــه‌مړاوی کاته ګنلیم
څم چی دوطن په سپیرو‌خاو رو‌سینه‌و موښم
او ښکوته پرتوګ دمینی زه‌توره‌تیاره ګنلیم
کله دوفا په‌کورد حسن ډیو ی بلی دی
سترګی چی ونه‌پو ښتی پیکی‌په‌خوب‌و یده ګنلیم
راو لی‌سیلاب دماتم بیا د اسد سترګوته
او ښکوته ماتم ګور م امید په پرزیده‌ګنلیم

۶۳ر۱۱ر۲۴
کابـــل

*

داو ښکو اسویلو ته دو صا ل اغیار نخل
دغم سو یو نغمو چی دربا ب په تار نخل
دزړه دتمنا المبه په ستر گو شو ه بیرون
دمینی تبسم یی په کـړی ددار نخل
دحسن جنازه یی تله دهجر پـه لیمو
چی او ښکی په تنی دمینی وا ر په وار نخل
په ستر گو دبلبل بر یښی دسرو هیلو سپوږ می
چی اوینی دزړ ګی یی په ښو دخار نخل
دزړه معصوم نظر یی تماشه وکړه دخیال
دآه دکور وریتو ته چی دو خـت انګار نخل
اسد ترینه تعبیر کړو دوصال دشو ندوالمر
دویر د مرګ شمال چی په پیکی دیار نخل

۱۱ر۱۲ر۶۳
کابـــل

دکانو موسکا

ای زما ارمانه د دردو نو د دوا په‌نوم
کانو ته موسکا دمینی ســـــروشوندو کی وستایه

پاس دژوند تندی کی داخلا ص‌سپوږ می رابره کړه
ستر گوته ژړا دمینی سروشوندو کی‌وستایه

وړه می په بنو نوی احساس‌ته رنایی دژوند
رغړه په‌لیمو دتورو و ینوسیلا بو نو کی

غم‌به می په‌لپو دهو س په‌پښو کی‌وژاړی
وسپړه دخیال غوتی داو بښکو پرهارونو کی

بښکته دی بانه کړه د مین‌دزړ گی‌خوښی‌ته
داد غم‌په کور کی د داغو نوزړه پری‌وښیره

پورته‌یی په مینه‌کړه له خا لــه داخلاص په‌لاس
تور زلفو بن دتور تمونو زړه پری وښیره

مځکی ته‌زینت درنو او بنکو په ډیوه کی‌وړم
والوزه دلمر تتی رنا ته بنکلا وبښه

زه درنه‌و صال دهو س سر و شوندو کی‌نه غواړ م
ماته دماتم داو بنکو نیل کی‌ژړا وبښه

حسن دکمخو په‌سر د استادلاری پل‌وهی
ژاړی چی ما ضی دو صـــال بنکلو قد مو نو ته

گوره داخلاص بنکلا دیار دقدم څنو کی
پاڼه د بنا یست شه‌دمین زړگی زخمو نوته

حال می دستم په‌زړه ډغم دکانی نښه ږدی
دلته دهوس په‌بام داو بنکوخندا تاوه‌شوه

راغله دوصال ډیوه دحســـن تاریکیو ته
داچی په‌پترو د خیال د هجرژړا تاوه شوه

۱۲ر۱ر۱۳٦٤

*

آرمان شو دوصال د اننگو پـــه سرویده
سپرلی می شو دسترگو دلیمو پەسرویده

بنایست یی په ګډاځی د جفا دویرپه چم
جنون چی شواله درده دبنو پـــه سرویده

راوار شو دتو مت کانی زماد عشق‌پەبام
زړګی ځا نګی په مینه داز غو پەسرویده

فراق ته دیار ژاړی دخیالو نـــو پربښته
هوس ځی هجره ستادوز ځوشپو پەسرویده

په ټنډه دتقدیرنه وه د زلفـــو زنایی
شو ستوری دوصا ل می دتیارو پەسرویده

راکوزی شوی دخیال دبنـــــو ستر گی په گریوا ن
چی دا غ شو دزړ گی داندیښنو په سرو یده

اسد ته چی رامخ شو دښایسته ستر گو نظر
اخلاص کړو بی مجاله د لمبو په سرو یده

۱۸ر۱ر۱۳٦٤
کابل

*

څنګیږی می دخیال ناوی کمخوکی دما ضی
اختیار دسپینو او بنکو ور څوشپوکی دما ضی
دګام په منځ بنکاره کړی داخلا ص دمنځ بنکلا
بنکلاوه دجنون په اننګو کی د ماضی
په ستر ګو دبنو ګورم دیاردستر ګورنګ
یم کو که دهو س په سو زیدو کی دما ضی
دمینې تبسم غواړم کو څه کی دوصال
خنداشوه رانه تاوه غورز یدو کی دماضی
په او بنکو چی شوه خلا صـــــه دسپیری تندی غوټی
سپرلی راته موسکا ی شو پرزیدو کی دما ضی
په ستر ګو ورته کنی داسد با په لحد
موسکاده مرګ نیولی په لیمو کی دما ضی

کابل
۱۳٦٤ر۱ر۲۲

*

رانه شی دسر په بدل مینه یې تروته مه کړی
الوند ښه دی ګریوا ن په اوښکوالنده یې اسره مه کړی

نه چې یې تصویر کړی چیرې خیال دزړه په ستر ګو کې
ربه دبنګړو ښکلا یې دغو مزه ساده مه کړی
ژوند مې دنظر په ستر ګو ښکل کړو ستاد شوانډو یاد
خوښ دیارد سر په سوری لښته یې کړه مه کړه
زړه دغم اټ ل شو څکی هو س دتور تمو په جام
رو ن چې نه کړی مخ دمینې اوښکه مې ډیوه مه کړی
ستاد کور جاروکوې فلکه داسد بانه
خیال زاهد دتورو زلفو کوکه یې وایده مه کړی

۱۳٦٤ر۱ر۲٦
کابل

*

زړه دغم کمخو کی دخندداز لفی بوسه کړی
هجر مې پهستر گو د سبا زلفی بوسه کړی
غم نبنه دی چې ځانگی داو ږ دوزلفو په تال
سړو خور ی هو سه تاد چاز لفی بوسه کړی .
خیال گر ځی دیاردگلا بې شونهو په مخ
تنهې می په مینه د سودا زلفی بوسه کړی
تیره په بنهو شوه دآشنا دیاد څپه
او بنکو لیونو می دگدا زلفی بوسه کړی
او بنکو لیو نو می د گدا زلفی په لیمو
جام د تصور می د آشنا ز لفی بوسه کړی
څاڅی په گ ل مخی د اسد دستر گو یاد
شپی دبیلتانه چی درنا ز لفی بوسه کړی

کابل
۱۳٦٤ر۲ر٦

*

عشقه ور څې شپه ی‌دی‌پـــــه‌سر واوښتی
څو مره‌وسوسی‌دی په سر واو بښتـــــــی

حسنه‌ثنا خوا ن ز ما د مینـــی‌شه
هلته‌چې ډیوی دی په‌سر واو بښتـــــی

غوټه شوه محفل کې دسا قـــی‌تنده
بخته چی‌کاسی‌دی په ســر و او بښتی

ژبه حیا نا که ده با نـــــه واایی
را شـــه‌چی‌و عدی دی په سر واو بښتی

گام مې کړه په او بښکودغمو نولاړ
گر څم که تو بی دی په‌سرو اوښتی

کوز کړه تر خم لړه د ستر ګو بام
خم شته که پیالی دی په سر واو بنتـــــی
ستا غرور ته یاره لیو نی اسد
اور شو چ ی لمبی دی په سر واو بنتـــی

۱۳٦٤ر۲ر۱٤
کابل

*

یاد می کړو دخیال ټاو ي ګزاران په نرمو شونډو
څانګی چې له نازه دی پیزوا ن په نرمو شو نډو

برېښنی می په ستر ګو کی دمینی اتلوالله
ستوری دهو س زدمه تاوا ن په نرمو شو نډو

رنګ یی په مکیز کړ ی ددا غو انوستر ګی خلاصی
ګرځی می داو ښکو چې بارا ن په نرمو شو نډو

ستا په کوږ نظر شوی د اخلا ص غوتی راتاندی
ښکاری می امید لکه با غوا ن په نرمو شو نډو

ګوری به له تاوه دا سد با نــه آسمان ته
نا څی دی له خیا له چې ارما ن په نرمو شو نډو

۱۸ر۲ر۱۳٦٤
کابل

دکونړسیندته

څومره دبدبه لری په کانو کی
دودشو مه لمبه لری په‌کانو کی
حسن که دی ځانگی د څپو په مخ
زهد ته کعبه لری په‌کانو کی

خیال ته دمو سکا او به پـــــه‌سرو شو نلړو
زړو نو ته ډیوه لری په کا نـوکی
چنگ وهی په ستر گو داوبو چیغه
عشق ته می نغمه لری په کانوکـــــی
کوز دی کړو گریوا ن ته داسد نظر
وصل ته اسره لری په کا نـــــوکی

۱۳٦٤ر۳ر۱۵

*

دمینې په لمبو کې هو سو نـــه نځوم
راګوره سپیلنیو کې نظرو نـــه نځوم

دزړه ددا غ خاطر به خا مخا راوړی آرام
دژوند د ډمې او ښکو ته یادونه نځوم

دمینې تبسم ځا نګې دسترګو په ازغو
دخیال دکور په پاڼه شنه داغونه نځوم

خپره دیار لیمو کړه دو صا ل سپینه موسکا
دغم دمخ په ټنډه پرهارو نـــه نځوم

دژوند دخیال ځو لی ته لکه اوښکه دانسان
دسترګو په کاسو کې تو فانونه نځوم

پښې می ارادی شوی ستاد هجریه لمبو
په نوګو دخندا دویو جا مونه نخوم
پهستر ګو دلمسه ګوره د حسن درخانی
دخیال په لوړتو کې فریا دو نه نخوم

کابل
۱۳۶٤ر۳ر۱۵

*

ورغلم دمینی انتها ته چی الوګی شومه
ستر ګه دمجنو نړو مه ایلاته چی لوګی شومه
عشق به داباقی دانی دچادڅوند په ګوتوړدی
زه الکه مانړو د یارسوداته چـــی لوګی شومه
شمعی می داوښکو دبنړو په څوکو بلی شوی
ښبنه داخلاص یمه بنکلا ته چی لوګی شومه
ښ می دآسمان ناړ ی ګامو نـه په لیمو کی وړی
ستړګی په غرور ناڅی آشنا ته چی لوګی شومه
کوکه داسد څی دآشنا دتو ړو زلفونه
او بنکه دانسان ژاړ م خندا ته چی لوګی شومه
۱۳٦٤ر۳ر۲۵
اسعد آباد

*

مینه مینه وایم ددلبر نه یا غی شوی یم
نبنه دالفت یم دگودرانه یا غی شوی یم

پوزه دی په مخ و گورهوینی راته مه ژاړه
زه هم ستاپه سر دیار نظر نه یاغی شوی یم

بچ رانه باښه که دزړ گی خیر ل په گوتو دی
لوبه کی دمینی د ځیگر نه یاغی شوی یم

مایی نور په ټنډه دشنه خا ل په نقطه مه گوری
کړیکه دبلال یم دمنبر نه یا غی شوی یم

تښتی بی دردی چی د اســـد سترگو کسوانه
زه یو لیو نی دهوش اثرانـــه یاغی شوی یم

۱۳٦٤ر٤ر۱۹

*

څنګه داغوانه د ی دوا یی نشته
وسوم اورونه دی دوا یی نشته
حسن دسرولمبو جنت را بینې
خوازه‌خیالو نه دی دوایی نشته
ستادتیرو بنو په‌تاوو څو کـــو
جوړ پرهرونه دی دوایی‌نشته
څښمه دزړه‌وینی د خیال په لپو
بل پری او رونه‌دی دوایی‌نشته
رقیبه ستا چی داسد په‌کو که
پراته لاسونه دی دوایی نشته

۱۳٦٤ر٤ر۲۵
اسعد آباد

*

په‌کور می دفلك سوی ارمان‌دانه‌دانه شو
اثر دلیو نتوب می په‌گریوان‌دانه‌دانه شو
راځی که‌زړه دی سوز ی دنادارو په‌تپو س
موسم زما داو ښکو په میدا ن‌دانه دانه شو
څپوته دزمان کوم سجدی دزړ ه په‌خیال
زنځیر چی دوحشت پری‌دانسان‌دانه دانه شو
موسکا می دیار ځا نگی دزړ گی په‌پر هرو
غرور ته داخلاص گوره آسما ن‌دانه دانه شو
داتوربه تری نه یوسی دسپوږمی‌دزلفو مخ
جنون که می په څنو دبیابا ن کانه دانه شو
آرام یی داسدو کو ت دحسن‌په‌المن
نظرچی می په‌سترگو دجـ انـــان‌دانه دانه شو

۱۳٦٤ر٤ر۳۱
کابل

*

یو خواب یی دلیمو و م کله تلم کله‌راتلم
بلد په‌شو گیرو وم کله تلم کله‌راتلم
اثرمی دجنون گوره دستر گو په‌غولی
بس شمعه دتیارووم کله تلم کله‌راتلم
راهست یی‌شوم له رو یه ددنیادمخ په‌کور
سپر غی چی دلمبووم کله تلم کله‌راتلم
مستی می‌وه د مینی د نبا یست په اننگو
لایق دسو زیدو وم کله تلم کله‌راتلم
روښانه می په‌سترگو کړو دبلی‌مینی‌تال
یوساز یی دکمځو وم کله تلم کله‌راتلم
داځا نگی چی مدام پری داسدژوند ریښکی
لیوال یی دلیدو وم کله تلم کله‌راتلم

۷ ره ر ۱۳٦٤
کابل

*

زړه کی می دسترګو پر هـــروخاندی
ستا چی پری د مینی نظـــــروخاندی

راچی‌وړ ی ګریوان ته نیم کښو نظر
زلفی‌یی په مخ د ګو دروخاندی

مخ چی اننګی کړی دزړه ستر ګوته
مرګ ته دکلونو نهرو خاندی

تاو چی تصور کی شی دشوندو یاد
مینه په چاود لی تهرو خاندی

اورته می دمینی په سپیر و شوندو
سترګو کی آشنا په هنـــــر وخاندی

شپه یوه شیبه ی بنکلـــوم زلفی
ستوری می دغم په ســحـــــر وخاندی

حسن د دلدار تهدامسد په نوم
دود دسپیلنی په مجمر وخاندی

۲۸ر۶ر۱۳۶٤
کابل

*

تاته سپیلنی په خنداو سوز ی
څومره لیو انی په خنداو سوز ی
لګی می په سر خوچی راو ګور ی
کانی آسمانی په خندا وسوزی

وخته !وړم په سترګو دالفت ډیوه
خیر که می ځوانی په خنداوسوزی
بیابه دی آشنازما دزړه ، په کور
شوانډی الوانی په خنداو سوزی

ګرځی می په سترګو تبسم ه یار
ګل ته پسر لی په خنداوسوز ی

ستادزلفو و ل کی محبوبا زما
عقل زاندانی په خنداو سوز ی

اورته دی دحسن داسد زړګی
څنګه ارما نی په خنداو سوزی؟

۱۳٦٤ر۷ر٦
کابل

*

دا اینکو سیل چې په لا نـــه ګریوان غوتې نه‌سپړه
زما په‌ژبه دما ظلمي بیان غو تې نه‌سپړې

کړم باغبا نې دزړه په خیال د نازوالو ستر ګو
په‌بام داو بنکو مې دزړه ارما ن‌غوتې نه‌سپړې

وړم دفلك دظلم غو ته د خندا په‌تندې
نه‌مادژړه په‌اوینو سور دامان‌غو تې نه‌سپړې

سور اسو یلی د وچوشو نداوږدم‌دغم په‌بلې
تن مې دژوند په‌لمن تاو کاروا ن‌غوتې نه‌سپړې

شلوم ګریوا ن دزړه له دردد دنیا په‌ستر ګو
زماوخیال دنظرلو ړ آسما ن‌غوتې نه‌سپړې

تریخو به ژوانه نیسم به لور ترخو باوریمی ژایم
تریخو به‌مستاد النکو کلاق غوتی نه‌سپری
ویښی اسدو سوال خو لی دژوبه‌دمینی به‌کور
حیر که دیار به شوندیو کو ز پیزوان غوتی نه‌سپری

۱۳۶٤ر۷ر۱۳
کابل

د بنکلالمبی

جوړزما د نظر سنیور ی

ستاپه دواړو اننګو کی
داچی ناڅی راته وایی
په لمبو کی دی بنکلا دی
د الفت د دوك په ګوتو

ارولم راړولم

ستاله پامه چی یاغی شوم
د کړو وروڅو په ول می
د آرام زړ گی کوډ له
د ماتم داوښکو نیل کی
د کباب زړ گی له تاوه
په امید دژو ند لاهو گړه

۱۲ر۸ر۱۳٦٤
کابل

*

زه چې په‌زړه د پر هرو نوغیږه خلاصه نیسم
سپینې کو کې ته دسوا لو نـم غیږه‌خلاصه نیسم
بیاراته مراو ی تصور را خـــې دچا دزلفو ؟
دزړه په مخ چې د دا غو نوغیږه خلاصه نیسم
زد مه لمبې دزړه داو بنکودتندی په‌سترګو
کوردماتم ته داوروتو غیـــږه خلاصه نیسم
دخیال داغوانه د تتر پانه پـــه سترګو کې‌و ړی
بن دښکلا ته د ګلو نو غـیـږه خلاصه نیسم
اوړم له‌ژو نده د منصورو هیلو تاومی اخلی
سپینه سینه چې په دارو نـــو غیږه‌خلاصه نیسم
را خې به‌سترګو اسه د زړه‌دا غ په لمن
غوټی‌د خیال ته دیادو نو غیږه خلاصه نیسم

۱۳٦٤ر۸ر۲۱
کابل

*

درځم پەستر گو ستاکو څه می په سر اور بلوی
دسپینی خو لې مړه پلو شه می پەسر اور بلوی
څنگه‌به نه درور م ډالی دژړه‌د ویښتو قطره
ستاد بنهو هره نخره می په سر اور بلوی
سور اسو یلی می په سپیـــرو شنو نهو دځه تښته ده
ستا پښه نیو لی تلو سه می‌په سر اور بلوی
زماد رنگ‌په ژیړه پاڼه دنیا څه والوستل؟
دبیلتانه شیبه شیبه می په سر اوربلوی
جوړه دزلفو عنبر ینو د سجدی لایقه
پرته په مخ کړه‌وړه می په سر اور بلوی
راوړه گریوان ته داسد د خوږ نظر کرشمه
ستاد نیاز بین حسن ډیوه می‌په سر اور بلوی

۱۳٦٤ر۹ر٥

*

سترگو ته چی راغله نو خندا په شوندو پوری وه
خیال می ښو ده زړه یار ته سبودا په شوندو پوری وه

تاخو راته وی چی نری شوندی ځنګوم په اور
انښه دبیمار زړ گی زما پـــــه شوندو پوری وه

گام می پښه نیو لی د ما ضی په کانو وژاړی
هلته چی شیبه دزړه د غلا په شو ندو پوری وه

اخلی تری گلان دسپر لی رنګ په تورو سترگو کی
پانه می دوینو چی د چا په شوندو پوری وه

تا نو دآسمان دزړه دکورتپو س په څه گاوه
گرښه دقسمت چی دی زما په شو ندو پوری وه

وم په تصور دسترگو سپر م ستا دزلفوول
راغله دالفت دیوه حیا په شوندو پوری وه

پورته می اله خوالی شو لکـــــه وارېخی اسویلی کوره
کرځی په آسمان ژاړ ی بر ېښنا په شونډو پوری وه
وارخی داسه درنو او ښکو ابـــا سیند په موج
اړوی تیاری په اور رنا په شونډو پوری وه

۱۳٦٤ر۱۱ر۲۰

جگری ته دسولی اواز

زماپل داور لمبه ده ستا په‌سر به قلم اخلم
اراده می پنبتنه ده‌ستا په سر به قلم اخلم

په‌قوت دخوانو متو زور زنځیـر اوبه‌کومه
گرندی می تلوسه ده ستا په‌سر به‌قلم اخلم

داچی نن می دواړه ستر گی‌د ستم په‌پانو ناڅی
خندیدلو ته می اسره ده ستاپه سر به‌قدم اخلم

څم دشپو تورو تیارو کی درانه وصال په تمه
هره او ښکه می‌ډیره ده ستا په سربه قلم اخلم

په امید دښکلو ستر . گودتیارو په‌زلفو څا نگم
چې‌رنا می عقیده ده ستا په‌سر به‌قلم اخلم

زه په تیغ دیار دوروځو پر ی کوم شیبی داوښکو
خیرکه لاره می اوږده‌ده ستا په سربه قلم اخلم

۱۳٦٤ر۱۰ر۲۷

دبره بیری شهیدانوته

لمن دخیال می ستا په مخکه او زوی گلونه
چولی دستر گو په باړ خو کـــــی گرځوی گلونه
دانگه په مینه درقیب کور ته تازه سپرلیه
هلته خزان چی په لمبو کـــــی سوزوی گلو نه
اورشه نظره دساړه نظام په توره تنده
کوم چی خنداته په دوه گو تـو رژو ی گلونه
لیونی عشق راوړه په ستر گو کی دچا یادونه
چی می دزړه په سره کاسه کـی لمبوی گلونه
گوری نظر ته داسد چی په بی باکو بنو
دلته دمینی په خو لی کی زنگوی گلونه

۱۳٦٤ر۱۱ر۳

✱

خلیږی می په تنده کې آشنادزړه تنها که
محل دتروږ مو ته شوه رنـــاد زړه تنها که

آشناو منه سوال می دزړ کې د پرهرو
دالی دروږ م په لیچو کې نن ښاد زړه تنها که

تاویږی دی له نازه چې پـــه ستر ګو کې ماتم
مجبوره زړه چاودون ته شوه زما دزړه تنها که

راخپور چې کړ لو سینوی پر ی د یار سپینی خو لګی
ښکاره ګرځوی شو نډو کې خندا دزړه تنها که

اثر می دجنو ن ځا نګی داوښکو په ګریوان
ږدی سر په زنګانه را ته سو دا دزړه تنها که

راګنبیږ ده داسد په خیـــا ل ګا مونه د پردو
چوی که می په اوښکو د دنیا دزړه تنها که

۱۳٦٤/۱۱/۲٦

*

دگریوا ن هره رینبنگی می‌تنداره گوی دښکلو
وړ نظر دلیو نو دی په انگـا ر دسوزوالو

دفراق سوی لمبی وی ته چې لاړی مروړه
دنسیم‌و زمه دی راوړه په‌خو لی کی دکتلو

دزاړه خزان بدله را ته او ښکه‌او ښکه‌کیږ ی
نوی شور چې‌دی پیدا کړودخپل ستوری په ختلو

څخوم له دواړو ستر گـــو- په‌لمن دانی داو ښکو
شو تنتی زماد مینی داز غـــو دبویولو

گرځوه درانه غمونه داځوا نی‌زما په‌ستر گو
پله سباه راکی پیداکړه‌پرك‌دخال‌د دځلولو

دیاری په‌نوم ویده شوه په کلو زما په‌لیچو
تن ده څنګه پښه نیو لی‌دخولګی په‌راکولو
څه روښانه حقیقت دی داسه د سترګو او ښکه
خیال‌د غم دتورو شپو ګنې لایق دبدلولو

۱۳۶۵ر۱ر۲

اسعد آباد

*

مه گوره نن ماته په پـر د و ستر گو
وډی سوم په مینه د لمبـــــو ستر گو

داسوی ناسور زړ ه دو لجـــی په دود
اخلی په منگو ل د لې وخـــــو ستر گو

بیا خودی یادوانه دلر یا پـــه مـــا
اوږی او را اوږ ی د ز ړ و ستر گو

نه را خـــــی د ید ن ته چی دشمنا ختو می
خه خوږه پښتو ده دهغو ستر گو ستر گو

وښتل و ختو نه ز ه بدل نـــه شو م
تا خوراته وکتل په خـــــو ستر گو

گوره اسو یلو ته د اســـد چی نن
گرځی دی کوڅه کی په لیمـو ستر گو

۱۳٦٥ر۱ر۲۲
کابل پوهنتون

*

اوږ دیږی نه لنډیږ ی دا څنګـه بی سلی ده
بیالی دی چی کړ نګیږ ی داخنګه بی سلی ده
دژوندنه مخ‌به پاڼه داو ښکی به دودلاړم
تیریږی نه‌ودریږ ی دا څنګه بی سلی‌ده
راتاو می شو په خیال کی محفل دمینو شانو
تودیږی چی سړیږ ی دا څنګـه بی سلی ده
یوداغ دچاد مینی زما دزړ ه په خوله
دیوه شبی چی سوزیږ ی‌دا څنګه بی سلی ده
که‌خو یی غر قومه په خم دیارد مینی
یه‌ستر گو می تاویږ ی دا څنګه بی‌سلی‌ده
المبه‌یی په‌بنو گړم اسله د مړ و ستر گو
ودریږی که وریږ ی دا څنګـــه بی‌سلی ده

۱۳٦۵ر۲ر۸
کابل

*

شوانډو و کی گیلی زماواو ښښتي راواو ښښته ی
زړه کی اندیښنی زما واو ښښتی راواو ښښتی
ستا مخ ته زما کاته ژو نلو چی واجه می کړو
ستر کو کی ډیوی زما واو ښښتی راواو ښښتی
زلفی دی په سپینه خسه ار تا ل وهی غوصه ده بس
پښوته زولنی زما واو ښښتـــــی راواو ښښتی
جار دی له خوږو ستر گـــو لږ خوږ اتاو کوره
اورته ګلوسی زما واو ښښتـــــی راواو ښښتی
ستا نظر پیروزو پیر زوښخت می په اور اړوی
ګلته چی پیالی زما واو ښښتـــــی راواو ښښتی
زلفی دی شوی ولاړ پر ل نور به څه نازوانه کا
یاړی شو گیر ی زماواو ښښتی راواو ښښتی

تاپه دو گه بازنظر ماخو در گه سم گتل
سپا سترگی گهبی زما و اوښتي راواو ښتی
ښګل گرو داسه سترگو حسن دی بها لری
خیر گه یرې ایرې زما و اوښتي راواوښتی

۱۳٦٥ر٤ر٤

*

نن چی دی گلونه په اور بـــل خاندی
ماته‌می داغونه دگو گـــــل خا ندی

گوته می په ژو نده ز ده چی در جاریی کړم
خور چی دیادو نو په بور جـل خا ندی

زه اوتله دزلفو په تیاره لمن
زړه می تخنوی په کی منـــــزل خاندی

حسنه ستاد مینـــــی دار زما غاړه
وگوره خواږه چی په مقتـــــل خاندی

وایه داسد گر یوان ته بیـــــا ولی
ستا په تورو سترگو کی کجـل خاندی

۱۳٦٥ر٤ر٨

*

ستاپه محفل کی بلیدم تارا ته ونه کتل
لکه دشمعی ځلیدم تارا ته و نه کتـــــل

دسمندر پاغی څپه ومځه خوره وره شوم
چی دی لهزلفو کوزیدم تارا ته ونهکتل

ښښمه ژو ند آشنا دستر گودپیکی سیوری ته
لکهلوگی تری تاویدم تارا تهونه کتل

بیامی داستا دمغ خوازه یادونه غیږ کی نیسی
دگل پهپانو گر ځیدم تارا تـــه ونهکتل

اوس د دنیاپیغور ته سر نیسه بی غوره گله
زه دی پهپانو و ریدم تارا ته ونهکتل

دومره پەراز دمینی‌پوه شوم چی ئری واوبنتمه
زه دی لەسترگو شر میـــدم تاراته و نەکتل
بده پەتندی داسدو ختە داحسان باروانه
زەیی پەزلفو خورید م تارا تەونه کتل

۱۳٦٥ر٤ر۹

PROPERTY OF ACKU 2960

ماوی چې ګرځې به ژړا پـــه او ښکو
ښه شوه چې وې کړه خندا په او ښکو

سوز مې دزړه ور ځې د عشـــق په‌خنو
کوزه په‌ستر ګو شوه ښکلا پـــه او ښکو

زړګیه بس رغیږی و موسیږه
ټاوه له‌کبره شوه لیلا پـــــه اوښکو

ګیله په‌ستر ګو وړم د یـــار دستر ګو
زاری په لبو چې سودا پـــــه او ښکو

ګام زده اخته داسد په حیلو
نظر پوره نه‌وړ ی آشنا پـــــه او ښکو

۱۳٦٤
کابل

سمو نلیك

له درنو لوستو نکو څخه په دراناوی هیله کیږ ی چې د کتاب دلوستلو څخه د مخـــه دالا ند ی ناسمی ، سمـــی کړی.

مخ	کر نبه	ناسم	سم
۷	۱۲	سیوی	سیوری
۸	۱۱	سر کی	سر کو
۲٤	۱۱	داغو په زړ گی پل	دانی
۲٤	۱۲	دانی	داغو په زړ گی پل
۳٤	۹	او نبکی درقیب نا څی د ستر گو په لیمو	
۳۸	٦	چیغه	گوتی
٥۱	۳	وسوال	دسوا ل
٥۳	۱۱	مه سر گو داسد	په ستر گو د اســـد

لنډه پیژندنه

اسد الله اسد د ۱۳۳۸هش کال داسد د میاشتی په اوه لسمه نیټه د ننګر ها ولایت دکوز کونړ دولسوا لی دښګی دمیاګانو نو می کلی کی زیږیدلی دی. په ۱۳۵٤ کال دنو مړ ی ولسوا لی د سید جمال الدین افغا ن له لیسی څخه فار غ اود ننګر هار دبایزید روښان دپوهنتون دانجنیری په پو هنځی کی شا مل شو، خو دیو لړ ستو نزو له امله یی لوړ ی زده کړی نیمګړی پا تی شوی.



اسد الله اسد د ۱۳٦٤کال څخه راپدی خوا دقو مو نواو قبایلو دچارو په وزار ت کی رسمی دنده لری .آثار یی د ۱۳٦۰ کال راهیسی دهیو اد په مطبو عا تو کی خپریږ ی. د((کاڼو مو سکا)) د هغه دشعرونو لومړنی چا پی جونګ دی.